بسمل

۲۰.۰۹.۰۹

قدرمنو لوستونکو!

دنړۍ ټولو مومنانو ته دکوچني اختر مباره کي وايم الله پاک دې ربښتيني اخترونه زموږ په برخه کړي له همدې کبله مې نن دالاندې ساده شعر وليکه خو له دا ټولې ساده ګي سره سره په همدې شعر کې يولړ باريکۍ شته زما له تاسو ښخه دا هيله ده چې ناسم يې تعبير نه کړئ .

## د اختريته لا نه لګي

لمـــونځ کوو روژه يـــو د اخـــتر پته لا نه لګي
توري شپـــې اوږدې شـــوې دسحر پته لا نه لګي
وايـــه مــــلا جانـــه چې اخـــتر به کله هم راشي؟
سانـــدې کــــور په کـــور دي نيک خبر پته لانه لګي
تاخـــو وېـــل رويبـاره چې راځي ورته ښاره لاړي
لمـــــر له غــــرو وروواوښـــــت د دلبر پته لانه لګي
ســـــرې ستــــرګي دجارشم ساقي ولي پکي ځند کوې؟
اخوا دي خواکېـــــــــږي دساغـــــــر پتـــــه لا نه لګي
پــــروري بـــــادوي پـــــــکي غنـــم يوه دانـه نشته
دي اتـــــــو کـــلـــــو کـــي دئمـــــر پتـــه لا نه لګي
وېل چـــــي معمــــــاران لرو وطن به درته جلبل کړو

تېـــر يي له معمــــاره دختېـــــگر پته لانه لګي

زموږه په کوڅو کـــي خو دســــروونو ويالي راغلي

لار يـــي ورکــــه کړي دمحشـــــــر پته لانه لګي

دا چي اسرافيل (ع)له شپيله کی (۱)سره ويده پروت دی

پــوه دی چـــي دنيـــا کي د بشـــر پتــه لا نه لګي

دي ځنګلي وخـــت کي ځنګليان دي سره ښکر په ښـکر

ځــــــکه خــــو دمينـــي دګودر پتــــه لا نـه لګي

خــوله خو دي يوه ده خـــو سل ژبي دي په شمار پکي

دېـــــرو تـــــه دا ستــــــا دکرکتــــر پته لا نه لګي

ما خـــوستــــا ليـــــاره په تن اوربل شوم لمبه لمبه

تـــا تــــه مي کافـــره دځــــــګر پتــــه لا نه لګي

لاس او پښـــي تناکي سم او غـــر مي پسي پل پل کړل

دېــــر پســـي زهيــــر شوم دګوهر (۲) پته لانه لګي

ای بســـــــمله ستــــــا قام کـــي زره اتــفاق هم نشته

شپـــــــه او ورځ قتلـــــــيږي د رهبر پتــــه لا نه لګي

(۱) شپيله کی مانا شپيلی

(۲) له ګـوهر څخه زما مطلب ســوله ده